د افغانستان اسلامي امارت
لوړو زده کړو وزارت

امارت اسلامی افغانستان
وزارت تحصیلات عالی

میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه
د علمي او محصلانو چارو معاونیت
د استادانو چارو آمریت

ګڼه: ۵۹۹ - ۶۰۵

نېټه: ۱۴۴۴/۸/۰۵

☐ عاجل ☐ عادي ☐ اطمینانیه ☐ بلاغیه

موضوع: دعلمي آزادي پالیسۍ تائیدي

**د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې محترم ریاست ته!**

اسلام علیکم ورحمت الله وبرکاته!

محترما! د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې د علمي آزادي پالېسي د مؤسسې د علمي شورى په (۲) پروتوکول ۱۴۴۴/۶/۲۵ هـ ق نیټه کې د کتلو وروسته تائید شوه چې داده ددې لیک سره مل یې په (۹) اتو ورقو کې ستاسو محترم معاونیت / ریاست / آمریت ته د ورستیو اجرأتو په موخه درلیږو.

په درنښت

پوهنمل حمد الله حمیم

**د علمي او محصلانو چارو مرستیال**

**کاپي : د مالي او اداري چارو معاونیت ته!**
**کاپـــي: د ښووني او روزنې پوهنځی محترم ریاست ته!**
**کاپـــي: د اقتصاد پوهنځی محترم ریاست ته!**
**کاپـــي: د کرهنې پوهنځی محترم ریاست ته!**
**کاپـــي: د تضمین کیفیت او اعتبار ورکولو آمریت ته!**
**کاپـــي: د څېړنې او تحقیق محترم آمریت ته!**

آدرس: دولایت مقام پخوانی ودانی ،دمخابراتو او معلوماتی تکنالوژی ریاست مخ ته ،قلات ښار ،افغانستان
ایمیل: Fzazalmohammadfazli12@gmail.com

د لـــــــــــوړو زده کـــــــــــړو وزارت

میـــــــــــرویس خان نیـــــــــــکه زابل دلـــــــــــوړو زده کـــــــــــړو مؤسسه

علـــــــــــمی او محصـــــــــــلانو چارو معاونیت

# میرویـــس خان نیـــکه زابـــل د لـــوړو زده کـــړو مؤسسې

# دعلـــــمي ازادۍ پالیـــسي

کال :۱۴۰۱

میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه ۱۳۹۶ 2017
Mirwais Khan Nika Zabul Institute of Higher Education

**بسم الله الرحمن الرحيم**

**د میرویس خان نیکه زابل دلوړو زده کړو مؤسسې د علمي آزادۍ د پالیسۍ د منځپانګو لیست**

**د پاڼې سرلیک شمیره**


1. پیـــــــــژنـــــــــــدنه ........................................................................................................ 1

2. اهداف :............................................................................................................................ 2

3. اهمیت او ضرورت : ............................................................................................................ 2

4. لمړی ماده :........................................................................................................................ 3

5. لمړی فقره : د علمي او اکاډمیک ازادۍ تعریف:.......................................................................... 3

6. لمړی فقره : د اکادمیک ازادۍ اصلي ساحې:............................................................................ 3

7. دکادري غړیو علمي ازادي :................................................................................................. 4

8. دمحصیلینو ازادي: ............................................................................................................ 6

9. د دې پالیسۍ د احکامو سره د نه عمل کولو پایلې.......................................................................... 7




# پيـــــژنـــــــدنه

د انسان له ځانګړنو څخه يوه ځانګړنه چې لوی خدای ورته د نعمت په توګه ورکړې ده، هغه د هغه ازادي ده، انسان ازاد پيدا شوی او بايد ازاد ژوند وکړي.خو د طبيعت او حالاتو د قوانينو پر بنسټ د انسان کړنې لامحدود نه دي او د نسل د ژوندي پاتې کيدو او د انساني کرامت او حقونو د ساتلو لپاره په ځينو شرايطو کې محدود دي. د لوړو زده کړو موسسې هم د پوهې، تخصص او حکمت د توليدونکو په توګه او همدارنګه د بشري پوهې د خپرونکو په توګه بايد قانوني ازادي ولري، چې په ارامه ذهن سره د نامعلومو څېړنو او کشف او په خپلو علمي افکارو سره ټولنه د افق پر لور رهبري کړي.لکه څنګه چې د لوړو زده کړو موسسه يو علمي مرکز دی چې ځينې بيرنۍ دندې ترسره کوي، د پراختيا، خلاقيت، نوښت، د زده کړې ودې، څېړنې او د پوهې توليد په برخو کې د لوړو زده کړو موسسو د خپلواکۍ اغيزمنتوب په نړۍ کې ثابت شوی دی. د پوهنتونونو خپلواکي که څه هم په قانون او لوايحو کې د هغو ګامونو په پام کې نيولو سره معقوله ده چې د دې مقام د لاسته راوړلو په موخه وړاندې شوي، خو په علمي او مالي برخو کې د لوړو زده کړو وزارت او يا نورو ادارو له مديريت او کنټرول سره مطابقت نه لري. د پوهنتونونو په چوکاټ کې چارواکي دغه مداخلې په ځينو چارو کې د خپلو ګټو تر څنګ د علمي خپلواکۍ روحيه هم بې روحه کړې ده، هر پوهنتون کولای شي د مقرراتو او اکاډميکو اصولو په پام کې نيولو سره په خپلواکه توګه عمل وکړي. د لوړو زده کړو د ملکي قانون دري دېرشمې مادې د دريمې فقرې له مخې: هېڅ دولتي او نادولتي ارګان نه شي کولی د وزارت او د لوړو زده کړو د مؤسسو په علمي او اکاډميکو چارو کې لاسوهنه وکړي او د دې په تعقيب څلورمه فقرې له مخې د دې مادې په (۱، ۲، ۳) فقرو کې له درج شويو احکامو څخه سرغړوونکی د عدلي تعقيب لاندې نيول کيږي. په پورتنيو مادو کې د اکاډميکو ازاديو تضمين شوی، د اکاډميکو ازاديو دغه پاليسي به د علمي شورا له تصويب وروسته د ميرويس خان نيکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه کيتطبيق شي.

**د لـــوړو زده کــــــړو د ملکــــــي قانـــــون د ۳۳ مادي اولــــه ، دوهمــــه او دريــــمه فقره :**

1. د لوړو زده کړو مؤسسه هغه علمي مرکز دی چې ټاکلی دندي په غاړه لري او له هر ډول سياسي، مذهبي ، قومي ، سمتي او ژبنيو فعاليتونو څخه خوندي ده.
2. دلوړو زده کړو د مؤسسې هيڅ کارکوونکی ، له جملې يی علمي او اداري کادر غړي نه شي کولای د تدريس ، علمي اداري فعاليتونو او کاري روابطو له لاري د خپلو ډليزو او سياسي موخو په منظور، نفوذ او ګټه اخيستنه ترسره کړي.
3. هيڅ دولتي او نادولتي اورګان نه شي کولای د لوړو زده کړو د وزارت او مؤسسې په علمي او اکاډميکو چارو کي لاسوهنه وکړي.

Mirwais Khan Nika Zabul Institute of Higher Education

## اهداف :

**عام هدف :**

د علمي کادر غړیو لخوا د لوړو زده کړو په موسسه کې د ریښتیني علمي فضا رامینځته کولو لپاره د قوي ارادې بیا راژوندي کول او د لوړ کیفیت ښوونې او څیړنې رهبري چې د لوړو زده کړو موسسې به د نوي پوهې رامینځته کوونکو موسسو باندی بدلي کړي.

**خاص اهداف :**

1 .په مؤسسه کې د علمي آزادۍ مفکورې بنسټیز کول.

2 .په مؤسسه کې د علمي آزادۍ په وړاندې د قضیو پیژندل.

3. په مؤسسه کې د علمي ازادۍ د غوښتنو پیژندل.

## اهمیت او ضرورت :

د لوړو زده کړو په موسسو کې علمي ازادي یو له بنسټیزو اړتیاوو څخه ده او د علمي بنسټونو د ودې لامل گرځي. له بده مرغه کله ناکله په علمي بنسټونو کې داسې سرغړونې رامنځته کېږي چې استادان او محصلین او علمي بنسټونه ترې ځورېږي، نو اوسنۍ پالیسي دعلمي ازادۍ د بنسټیز کولو لپاره جوړه شوې ده.

۱۳۹۶ مرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه 2017
Marvais Khan Nika Zabul Institute of Higher Education

**د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو د مؤسسې د علمي ازادۍ پالیسي**

## لمړی ماده :

**لمړی فقره : د علمي او اکاډمیک ازادۍ تعریف:**

علمي ازادي د لوړو زده کړو قانون **د دریمې مادې** د **یوولسمې فقرې** له مخې په لاندې ډول تعریف شویده:

- د منل شوو علمي تګلارو(روشونو) او معیارونو پر بنسټ، دعلمي نظریو ازادانه وړاندي کول دي.

## دوهمه ماده :

**اوله فقره:**

دغه پالیسي د لوړو زده کړو وزارت د ملکي قانون د دریمي مادي یوولسمي فقري ته په پام سره وضع شویده .

## دریمه ماده:

**لمړی فقره : د اکادمیک ازادۍ اصلي ساحې:**

**د علمي او اکاډمیکي ازادۍ تر ټولو اساسي عناصر عبارت دي له:** څوک تدریس کوي، څه تدریس کیږي، څنګه تدریس کیږي، څوک د مطالعې اجازه لري. د علمي ازادۍ، د پوهنتونونو او څانګو د خپلواکۍ تر منځ د توپیرونو او داخلي اړیکو د روښانه کولو لپاره اړینه ده چې د اکاډمیک ازادۍ په پام کې نیولو سره چې د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې په ستراتیژیک پلان کې په واضح ډول ذکر شوي، چې په راتلونکو کلونو کې به لاندي خالیګاوي ډکې شي:

- د علمي کادر غړو د استخدام او کادري ازمویني اخیستني صلاحیت ترلاسه کول.
- د علمي کادر غړو د تقرر لپاره د ژوري هیئت د ټاکلو صلاحیت درلودل .
- د علمي کنفرانسونو په محافلو کې برخه اخیستل او د مخته وړونکي په توګه د دوی ارزونه.
- د علمي مقالو لپاره د تقریظ لیکلو وړتیا پیداکول.
- د میرویس خان نیکه زابل دلوړو زده کړو د مؤسسې په علمي مجله کې د علمي مقالې د خپرولو لپاره د وړتیا ترلاسه کول
- په معتبرو نړیوالو ژورنالونو کې د علمي مقالو په چاپ او خپرولو کې د میرویس خان نیکه زابل دلوړ زده کړو د مؤسسې وړتیا ترلاسه کول .
- د اکادمیکو معیارونو سره سم د اکادمیکو کارمندانو د علمي کارونو د محتوا او بنې ارزونه
- په ملي اونړیواله کچه د تفاهم نامو ترسره کول.
- د لوایحو ، طرزالعملونو ، مقرراتو او نورو تقنیني اسنادو په جوړولو او تغیرولو اړوند غونډو کې ګډون کول
- د څانګو سربیره د نصاب او یا درسي کریکولم د نوي کولو لپاره د لازمي وړتیا درلودل .
- د خپلواکه څیړنو او علمي سروې ګانو ترسره کول.
- د درسي کتابونو لیکل ، دمضامینو تدریس او د رهنما استاد تر نظر لاندي تدریس کې اشتراک کول.
- د علمي مقالو لیکل.
- په کمیټو کې فعاله ونده، په اکاډمیکو چارو کې ګډون ، لیسو او پوهنتونونو ته د خدمتونو وړاندې کول
- د څانګي او پوهنتون په کچه د لیکچر نوټونو، تدریسي موادو او نصاب چمتو کول.

Morvais Khan Nika Zabul Institute of Higher Education
د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه 2017

- د ښوونې او روزنې د کيفيت په لوړولو کې فعاله ونډه اخيستنه.
- د رهنما استاد په توګه په علمي سيمينارونو او مونوګرافونو کې د محصلانو رهنمايي کول .
- د علمي اثارو ژباړه.
- د پروفيسور رهنما استاد تر څارنې لاندې د څېړنې او علمي سروې ګانو ترسره کول.
- د علمي ترفيعاتو د مراحلو طی کول.
- د علمي شورا درلودل.
- د څانګې په کچه د نصاب نوي کول.
- علمي ترويج.
- په هيواد په کچه د تواميتونو او تفاهم نامو ترسره کول .
- د ماسټرۍ او دوکتورا پروګرامونو د پيلولو په موخه هڅې او کوښښونه کول.
- د قانون سره سم د اکادميک آزاديو ملاتړ.
- له قانون سره سم له علمي پوستونو څخه ګوښه کول.
- د فارغينو او د کار د بازار په تناسب د محصيلينو استخدام.
- د عامه او خصوصي کانکور ازموينو په ترسره کولو کې د نظارت ترسره کول.
- د ميرويس خان نيکه زابل د لوړو زده کړو د مؤسسې د علمي کليزې جوړول (د پسرلی او منی د سمسترونو پيل او پای، رسمي رخصتی، د منځنيو او پای سمسترونو د ازموينو پيل او پای او نور اړوند مسايل پکې شودل کيږي.)

## څلورمه ماده :

## دکادرى غړيو علمي ازادي :

**اوله فقره :**

د زابل د لوړو زده کړو مؤسسې اداري او علمي کارمندان او محصلين د علمي ازادۍ څخه په داسې طريقه کار اخلي چې د مسؤليت زده کړې او څېړنې سره مطابقت ولري او د پوهې په توليد او خپرولو کې برخه واخلي.

**دوهمه فقره :**

ټول علمي نظرونه او بيانونه بايد په عقلاني او منطقي توګه د ښه نيت او وضاحت سره څرګند شي او له هر ډول تاوتريخوالي، توهين او تعصب څخه پاک وي.

**دريمه فقره :**

د علمي آزادۍ دبيان حدود تر هغه حده دي چې د غيرقانوني فعاليت لامل نه شي او د نورو علمي غړو او محصلينو علمي آزادۍ ضعيفه او له ګواښ سره مخ نه کړي.

**څلورمه فقره :**

د علمي غړو علمي او څېړنيز فعاليتونه او د دوی پايلې د زابل د لوړو زده کړو مؤسسې د ښه شهرت او د مؤسسې د کاري ساحو په اړه د عادلانه قضاوت سره سم ساتل او پياوړي کيږي.

Marvais Khan Nika Zabul Institute of Higher Education 2017

**پنځمه فقره :**

د مؤسسې د اکاډمیکو غړو علمي آزادۍ ته ژمنتیا کولی شي د ټولنې مطلوب ارزښتونو ته وده ورکړي او په صادقانه او مسؤلیت سره د ټولنیزو مشکلاتو او غلطو باورونو باندې په نیوکې او ننګونې سره د پوهې سرحدونه پراخ کړي.

**شپږمه فقره :**

د زابل د لوړو زده کړومؤسسې ټول اکاډمیک غړي د حقوقي مقرراتو په چوکاټ کې د دیني او ملي ارزښتونو په ساتلو سره پرته له دې چې د مؤسسې په لومړیتوبونو کې مشکل واقع شي د څیړنېزو ، علمي او انتقادي بحثونو په ترسره کولو کې آزاد دي.

**اوومه فقره:**

د اکاډمیکو آزادیو څخه د سرغړونې، او د اکاډمیکو آزادیو په مسؤلانه تطبیق کې د شخړو او تناقض په صورت کې به مؤسسه موضوع د نظم او ډیسیپلین کمیټې له لارې حل کوي او د موجوده مقرراتو سره سم اړین اقدامات به ترسره کړي.

**اتمه فقره :**

اکاډمیک غړي د منل شویو علمي معیارونو سره سم په تدریس، تحقیق او تعلیمي چارو کې د ازادۍ حق لري.

**نهمه فقره:**

د اسلامي او ملي ارزښتونو په نظر کې نیولو سره له څیړنو څخه د ترلاسه شویو حقایقو او نتایجو د بیان آزادي.

**لسمه فقره :**

د لوړو زده کړو د قوانینو او د مؤسسې د پالیسیو په رڼا کې د ملي او نړیوالو اکاډمیکو بنسټونو او سازمانونو سره په آزاده توګه اړیکه درلودل.

**یوولسمه فقره :**

د نظر څرګندولو ازادي په پام کې نیولو سره په نصاب او تعلیم کې سمون او مثبت بدلونونه.

**دوولسمه فقره:**

د تائید شوی نصاب او درسي مفرداتو په نظر کې نیولو سره د درسي معیارونو او د نظم او اخلاقو له پالیسۍ سره سم د ټولګي په اداره کې د استادانو د عمل آزادي.

**دیارلسمه فقره :**

د اسلامي ارزښتونو او اخلاقي اصولو سره سم د نوي نظرونو او پوښتنو وړاندیز کولو لپاره د زړورتیا او وړاندې کولو آزادي.

**څوارلسمه فقره:**

د ټولنې په کچه د علم او پوهې د خپرولو په هڅه کې آزادي؛

**پنځلسمه فقره:**

په مؤسسه کې د سازماني کړنو خپلواکي.

**شپاړسمه فقره:**

په تخصص پورې اړوند علمي موضوعاتو کې د نظر څرګندولو ازادي.

**اوولسمه فقره:**

د پوهنځی د علمي شورا له تصویب وروسته د ګټورو تدریسي میتودونو په کارولو کې پر استاد هیڅ ډول بندیز نشته؛

**اتلسمه فقره:**

د لوړو زده کړو قانون په نظر کې نیولو سره د څیړنو د موندنو او پایلو په وړاندې کولو کې آزادي؛

د زابل د لوړو زده کړو مؤسسه میرویس خان نیکه ۱۳۹۶ 2017
Mirwais Khan Nika Zabul Institute of Higher Education

**نولسمه فقره :**

په علمي غونډو لکه کنفرانسونو، سيمينارونو، ورکشاپونو او داسې نورو کې د درسي تقسيم اوقات په پام کې نيولو سره د ګډون ازادي

**شلمه فقره :**

د پوهنتون اړوند په انجمنونو او کميټو کې د ګډون ازادي؛

**يوويشتمه فقره:**

د نورو خلکو په کارونو د علمي انتقاد ازادي؛

**دوويشتمه فقره :**

په تخصصي او اړوند برخو کې د ابتکاراتو او نوښتونو د طرحو د ارايئه کولو ازادي .

**درويشتمه فقره :**

نورې ازادۍ چې له قوانينو، طرحو، مقرراتو او طرزالعملونو سره په ټکر کې نه وي.

**څلورويشتمه فقره :**

اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون له مخې اطلاعاتو ته د لاسرسي حق.

**پنځه ويشتمه فقره :**

- د کار قرارداد او د اړتيا په صورت کې د حادثې کتاب ته د لاسرسي حق.

## پنځمه ماده :

## دمحصيلينو ازادي:

**لمړی فقره :** د رشتې غوره کولو او د کريډيټ لايحې سره سم د نصاب غوره کولو کې آزادي.

**دوهم فقره** :له اسلامي او ملي ارزښتونو سره سم د مونوګراف او څېړنې په انتخاب کې ازادي.

**دريمه فقره :** د مؤسسې د پاليسيو په رڼا کې د محصلينو په اتحاديو ، غونډو او ضرورت اړوند کميټو کې د ګډون ازادي.

**څلورمه فقره :** د علمي اصولو پراساس د نورو نظرونو باندې د انتقاد کولو آزادي.

**پنځمه فقره :** د نظم او انضباط په کميټه کې د محصيلينو د استازي غړيتوب او د اشتراک حق.

**شپږمه فقره :** د استادانو او دمؤسسې د کارکوونکو پر کړنو د علمي نقد او نظر څرګندولو حق.

**اوومه فقره :** د استادانو او کارمندانو په مختلفو ارزونو کې د ګډون حق.

**اتمه فقره :** د ازموينې د مقرراتو سره سم د وروستي ازموينې نمرو ته د تجديد نظر حق .

**نهمه فقره :** د محصلينو لپاره د پوهنتون ټولو اسانتياوو ته د مساوي لاسرسي حق

**لسمه فقره :** د مؤسسې په ستراتيژيکو پلانونو او نورو پروګرامونو کې د نظر څرګندولو حق.

**يوولسمه فقره:** د علمي څېړنو په کمېټه کې د ګډون او د علمي – څېړنيزو چارو په اړه د نظر څرګندولو حق.

**دوولسمه فقره:** -د مؤسسې د لوايحواو قوانينو مطابق د علمي غړي په حيث باندې ټولو اړوند اسنادو او مدارکو ته د لاس رسی حق.

**ديارلسمه فقره:** د تحصيل د دورې په جريان کې نمراتو ته د لاسرسي حق.

**څوارلسمه فقره :** تعليمي ريکارډونو ته د لاسرسي حق او د تعليمي سندونو او کاري تصديق ترلاسه کولو حق.

**پنځلسمه فقره :** د مؤسسې په کچه د صنفي کمېټې د غړيتوب حق.

Marwais Khan Nika Zabul Institute of Higher Education 2017

**شپږمه ماده :**

**ددي پالیسي د احکامو سره د نه عمل کولو پایلې:**

**لمړی فقره :** د پوهنتون د ټولو علمي کارکوونکو او محصیلینو لخوا له قوانینو ، طرزالعملونو ، لایحو او پالیسیو څخه هر ډول سرغړوني به د اړوند قانوني اسنادو سره سم و څیړل شي او مجرم ته به د هغه د عمل مطابق سزا ورکول شي.

**دوهمه فقره** : که ددي کړنلاري د احکامو څخه سرغړونه وشي او د مجرم لپاره مجازات په نورو قانوني اسنادو کي ذکر شوي نه وي د سرغړوني د اندازي سره سم لاندي تصمیم نیول کیږي:

- شفاهي توصیه
- لیکلي توصیه
- شفاهي خبرداری
- لیکلي خبرداری
- لنډ مهال کسر معاش تر پنځو ورځو پوري ( د پوهنتون د علمي کارمندانو لباره )
- اوږدمهال کسر معاش تر لسو ورځو پوري ( د پوهنتون د علمي کارمندانو لپاره)
- د اعظمي څلورو ورځو لپاره لنډ مهاله گوښه کول ( د محصیلینو لپاره )
- د بلې اداري ته اجباري لیږد ( د محصیلینو لپاره )

**د زابل د لوړو زده کړو مؤسسې د علمي ازادی تصویب :**

دغه پالیسي د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې د علمي شورى په ( ۲ ) گنه پروتوکول کي په ۲۵/ ۱۴۴۹ نیټه باندي په اتو (۸)صفحو ، شپږو (٦) مادو او پنځه څلویشت (۴۵) فقرو کي د رایو په اکثریت سره تائید ده .

**زابل د لوړو زده کړو مؤسسې د علمي او محصلانو چارو معاونیت**

**پوهنمل حمدالله حمیم**